**بسم الله الرحمن الرحیم**

# د غرب د بیان ازادي؛ هغه درواغ چې په غزه کې افشا شول

## خبر:

په غزه کې د یهودو لخوا وروستیو ټولوژنو په سبب د ډنمارک په ګډون په ټوله اروپا کې لاریونونه پیل شول.

په داسې حال کې چې په ډنمارک کې د یهودو پر ضد لاریونونه او د ټولنیزو رسنیو فعالیت روان دی؛ د ډنمارک دولت او رسنۍ د دغو اشغاګرو یهودو ښکاره ملاتړ کوي. دوی هڅه کوي هغه مسلمانان چوپ کړي او وېروونکي یې وښیي چې د اشغال ختمولو لپاره د جهاد غوښتنه کوي.

## تبصره:

د هغو شعارونو او پیغامونو له ډلې چې د ډنمارک سیاسیونو او رسنیو تر برید لاندې راوستي؛ یو له اشغال څخه د فلسطین سپېڅلې خاورې د ازادولو لپاره د جهاد غږ دی.

په ډنمارک کې ډېری لاریون کوونکي د نظامي اشغال لپاره د نظامي حللارې غوښتنه کوي؛ ډنمارکي رسنۍ پر دغې غوښتنه نیوکه کوي او ترهګرۍ ته دعوت یې بولي. د دغو لاریون کوونکو په منځ کې، چې په ټولنیزو رسنیو کې فعال دي، ځینې داسې کسان شته چې په رسنیو کې شخصاً تر برید لاندې راغلي او د «کرکې خوروونکو» یا «ترهګرۍ د ملاتړو» ټاپې پرې لګېدلې؛ ځکه دوی جهاد د حللارې په توګه وړاندیز کوي یا ان یوازې دومره وایي چې جهاد د اشغال ختمولو لپاره د نورو حللارو تر څنګ یوه حللاره ده.

ډېری ډنمارکي سیاسیونو هڅه کړې چې د جهاد له دغې غوښتنې د پلمې په توګه کار واخلي او له دې سره غواړي په ډنمارک کې د مسلمانانو او اسلامي ډلو پر وړاندې، چې په فلسطین کې نظامي مداخله غواړي، نور قوانین او مقررات وضع کړي. په داسې حال کې چې دوی پخپله د صهیونیستي اشغالګرو ملاتړ کوي؛ هم یې په څنګ کې ولاړ دي او هم وسلې ورکوي چې د غزې خلک پرې ووژني.

له صهیونیستي اشغال څخه د ډنمارک حکومت ملاتړ د ډنمارک خلکو ته افشا شوی او د وروستیو سروې ګانو له مخې په ډنمارک کې پر دوی د یوې سیاسي رهبرۍ په توګه باور په بې ساري توګه ټیټه کچه کې دی.

دوی ادعا کوي او له لسیزو راهیسې یې دا ادعا کړې چې د بیان ازادۍ اتلان او مدافعین دي؛ اوس یې دا دروغ او منافقت نور هم افشا شول. پر جهاد او د دغې کلیمې پر مفهوم د دوی برید؛ پر ټولنیزو رسنیو د منتقدو غږونو سانسور او د ډنمارک د خلکو لخوا د غزې په ملاتړ لاریونونو ته پوښښ نه ورکول؛ د دوی د تش په نامه بیان ازادۍ درواغ ښه په ډاګه کوي او دا د غربي دولتونو ګډ منافقت دی. دوی له دې وېرې پر جهاد او مسلمانانو بریدونه کوي چې د فلسطین او صهیونیستي اشغال په مسله کې پر عامه افکارو کنټرول په بشپړه توګه له لاسه ور نه کړي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## یونس پیسکورچیک